# د الله تعالی دا قول (وَقَالُوا لا تَذَرُنَّ آلِهَتَكُمْ وَلا تَذَرُنَّ وَدًّا وَلا سُوَاعًا وَلا يَغُوثَ وَيَعُوقَ وَنَسْرًا) او ويې ويل (خپلو خلکو ته): تاسو خپل معبودان مه پرېږدئ او تاسو مه پرېږدئ (عبادت د) وَد، او نه (د) سُواع او نه (د) یغوث او یعوق اونسر. ابن عباس - رضي الله عنهما -فرمايلي : دا د نوح له قوم څخه د نیکانو سړیو نومونه دي.

ابن عباس - رضي الله عنهما - د الله تعالی د دې قول اړوند : (وَقَالُوا لا تَذَرُنَّ آلِهَتَكُمْ وَلا تَذَرُنَّ وَدًّا وَلا سُوَاعًا وَلا يَغُوثَ وَيَعُوقَ وَنَسْرًا) فرمايي: دا د نو ح - علیه السلام - له قوم څخه د نیکانو سړیو نومونه دي، کله چې هغوی وفات شول، شیطان یې قومونو ته په فکر کې وروغورځوله چې خپلو مجلسونو او د ناستې په ځایونو کې بتان نصب کړئ او د دوی په نومونو یې ونوموئ، نو دوی دا کار وکړ، خو عبادت یې ونه شو، تر دې چې هغوی مړ شول، علم له منځه لاړه او د - همغو - بتانو عبادت وشو.

[صحيح] [بخاري روایت کړی دی]

ابن عباس - رضي الله عنهما - دا آیت کریمه داسې تفسیروي: دغه معبودان چې الله تعالی یې په اړه یادونه کړې ده، د نوح - علیه السلام - قوم یې په اړه یو بل ته په خپلو کې په پرلپسې توګه د عبادت سپارښتنه وکړه، وروسته لدې چې د هغوی پیغمبر نوح - علیه السلام - هغوی په الله تعالی له شرک څخه منع کړل- ویې ویل - دا په اصل کې د هغوی د نیکانو خلکو نومونه دي ، هغوی شیطان تیرویستل تر دې چې د - نیکانو- مجسمې یې نصب کړې، دا خبره دې حد ته ورسیده چې په بتانو واوښتل او له الله پرته یې عبادت وشو.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3421